د افغانستان اسلامي امارت

**د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت**

**د دفتر عمومي رياست**

د افغانستان اسلامي امارت
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د دفتر عمومي رياست
د صادري مهر: ۱۳۶۵ نېټه ۱۴۴۷/۳/۲۸

**ګڼه:** **نېټه:** / /۱۴۰۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم

**د کليو د بيا رغونې او پراختيا محترم وزارت ته!**

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

**موضوع: د لويو قراردادونو د بيا کتنې او د پروژو د اولويت بندۍ په تړاو ناستې ته مو د استازي را پېژندنه**

د ۱.۱.۱ د اقتصادي کمېسيون د ۱۴۴۷ هـ ق کال د اوومې مصوبې د لومړۍ موضوع اول بند پرېکړې پر اساس د لويو قراردادونو د بيا کتنې لپاره له اقتصادي معاونيت، ماليې، اقتصاد او د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ له وزارتونو څخه يو پلاوی جوړ شو، څو پر هغو پروژو چې د څېړنې اړوند پلاوي لخوا بررسي شوي، بيا کتنه ترسره او پروژې د لومړيتوب پر اساس ترتيب کړي.

دا چې ستاسې د محترم وزارت د پروژو اړوند اولويت بندي د نوموړې کمېټې له لوري په اخره مرحله کې قرار لري، د کمېټې د پرېکړې پر اساس مخکې له دې چې راپور له اقتصادي کمېسيون سره شريک شي، په اړه يې بايد ستاسې د محترم وزارت نظر هم واخيستل شي.

په دې اساس ټاکل شوې د موضوع اړوند په ۱۴۴۷/۳/۲۹ نېټه د دوشنبې په ورځ له غرمې وروسته (۲) بجو په دې معاونيت کې ناسته ترسره شي، هيله ده خپل تخنيکي استازی مو دې معاونيت ته را وپېژنئ. استازی مو کولای شي چې د نبې همغږۍ په موخه د دې معاونيت د ملي پروژو د همغږۍ د امريت له کارپوه ښاغلي شمس الدين "مسعود" سره چې د اړيکې شمېره يې ۰۷۷۹۰۱۵۱۲۰ ده، په اړيکه کې شي. والسلام

**درنښت**

**مولوي عبدالله عزام**

**د رياست الوزراء د اقتصادي معاونيت**

**د مقام د دفتر عمومي رئيس**

**کاپي:**

د اقتصادي چارو محترم رياست